Download from:aghalibrary.com



د نورو PDF کتابونو، ښایسته انځورونو،ویډیوګانو،او هر اړخیزه معلوماتو لپاره زمونږ فیسبوک او ټلګرام وڅارئ

# نا معلوم برخلیک

## ناول

### لیکوال صبور ګل صابر

### ترتیب: خالد تکل

خالد تکل
0779257478
@ayapohizy
0779257478

## لومړی برخه

خالـد اومیـرویس د پـلار دوه نـازولي زامـن ول، کـوم وخـت چې دوی دځواني سپرلي تـه رسیدل، پـلار یـې د وطـن نـه سر قربان کړ او له دې فاني دنیا یې دتل لپاره سترګي پټې کړي، هماغه وو چې خالد او میرویس تـه کمکې وروڼه او خوینـدې یتـیمان پاتـه شول، خالد او میرویس دناز لـه زانګـو څخـه ډیـر زربـشکته وغورځول شول او دناز په وخت کې د کور ټول مسوولیتونه او کارونـه دوی تـه ورلـه غاړې شول، نـه یـوازې د کـور مسولیت وو بلکـې دکـور لـه بانـدې د کلي او جمات له خلګـو سره د اړیکـو جوړولـو او ښـو پـاللو چارې هم د دوی په غاړه وې.

د خالـد اومیـرویس پـلار دکـلي والـو دژونـد ځـراغ وو او تـل بـه یـې دکلي والو مرستي ته په پراخ او ورین تندي هرکلی وایوو.

خالـد اومیـرویس یـوه مـور څلـور ورونـه او دری خوینـدې هـم درلودې، په ټولو کې خالـد او میـرویس د کـور د ګټـي وټـي وو او نـور ټول واړه وو.

خالـد لـه وړوکـوالې د مـور او پـلار منلـی زوی وو، د معلـیم اطاعـت کـوونکی وو، د کتـاب او مطـالعې مـین وو، د مشرانو احـترام کـوونکی او لـه خپلـو همصـنفیانو سره د ښـې رویـې خاونـد وو. ځکـه پـه پـلار، مور، خپلو خپلوانو او معلمانـو ګـران وو، لـه خالـد سره بـه هـر چـا پـه درسو کې مرسته کوله همـدا یـې سبب وو چـې خالـد ذهـن او تـر هـر چا په درسو کې لایق وو. میـرویس بیـا داسې نـه وو لکـه خالـد، تـل بـه یې د مور او پلار خبره نه منلـه، د لارې نزاکـت بـه یـې پـه نظـر کـې نـه نیوو، مشران به یـې ازارول، ټـول معلـمان یـې د ځـان د ښـمنان ګڼـل او پـه هـر معلـیم پـورې بـه یـې بـدې ردې ویلـې. میـرویس خپلـو خویونـو ټمبـل کـړی وو لـه مکتـب او مدرسـې ځخـه زړه تـورن او کـرکجن وو، ځکـه چـا پـام نـه ورتـه کـاوه همـدایې سـبب وو چـې د تعلیم له خوږ نعمت څخه به ورځ په ورځ لیرې کېدو.

خالـد دپـلار پـه شـان یـو ښایسـته هلـک وو، دښـو اخلاقـو څښـتن او متقـې نیـازمین اوبـا اسـتعداده ځـوان وو، دپوهنتـون دوره یـې یوکـال پاته وه، نور یې د پوهنتون دوره هم پای ته رسولې وه .

میـرویس لـه ټوکـو سره علاقـه درلـوده او د هـر مجلـس پـای اوسر میرویس وو، کور کـې لـه مـور او وروڼـو سره تـل غوغـا جـوړونکی وو، د ژوند تګلاره یې د بې بـاکوملګرو پـه خوښـه جـوړه ولـه او هـېڅ یـې

دکور، مور، خویندو او خالد فکر نه کاوه، څکه یې په زده کړو هم منفي تاثر غورځولی وو.

خالد به سهار وختي جمات ته دلمانځه لپاره پورته کېدو، کله چې به له مسجد نه راغی دقرآن کریم تلاوت به یې تر لمر ختو کاوه او د لمر ختو سره سم به یې دوه رکعاته نفل لمونځ کول، وروسته به یې په خوشحالی له ورونو خوندو اومورکی سره صبا ناری پیل کاوه، کله چې به یې صبا ناری وکړ د ورځي مزدوري ته به په سوچ کې وو او د ورځني مصارفو په غم کې به وو، ورسره به یې نورو ورونو ته دهمدغې ورځې لپاره مهالویش جوړ کړ او د مهالویش له لاري به یې دوی ته لارښونې کولې، هر ورور ته به یې هغه لارې چارې ورښودلي چې نن یې باید عملي کړي.

کله چې به خالد له مزدوری څخه ستړی ستومانه کورته راغی، له خوړې خورکی څخه به یې په مینه د ډوډی غوښتنه وکړه، او خوربه یې هم په ناز د ورور مخ ته ډوډی کېښوده.

خالد به مور اوکوچني وروڼه ټول څنګ کې ډوډی ته کېنول، د ډوډی له فارغېدو وروسته به خالد دپوهنتون انتظامات نیول او په څنګ کې به یې کوچني ورونو اوخویندو سره دمکتب په درسو کي کوشش او هڅه کوله.

دماسپښین له لمانځه وروسته به خالد پوهنتون ته لاړ، کله چې به له پوهنتون نه راغی جمات ته به لاړ اوهلته به یې دکلیوالو داحوال پوښتنه کوله اوهم به یې د خپل توان په اندازه له غریبو او معیوبو خلګو سره مرسته کوله.

میرویس بیا بل شان وو لـه زده کـړو او مطالعې سره یـي لـه کمتونـه علاقـه نـه درلـوده، د مدرسـې او مکتـب پـه سـوچ او فکـر کـې نـه وو، کله چې سهار د پاڅیدو پـه وخـت چـې مـور بـه یـې غوشـتل میـرویس لمانځه ته پورته کړي، ډېر وخـت بـه دمـور او میـرویس تـرمنځ لفظـي شخړه جوړیده، کله چې به صبا ناري تـه میـرویس راغـی لـه ورونـو او خویندو سره به یې شخړه کوله اوهغوی بـه یـې پـه هـېڅ نـه خـبر رتـل، چې صبا ناری بـه خـتم شـو اوس بـه مېلـه او ننداره وه چـې میـرویس به مور اوخالد کار ته لېږل، میرویس بـه نرمـه تبـه پـه ځـان راوسـته او کله به یې د کار کولو لوازم پټ کړي وو.

میرویس دانه غوشتل چې پـه خپل وطن کـې کـار وکـړي، تـل بـه یـي له مور او خالـد سره جنګونـه کـول، یـوه نېمـه ورځ چـې بـه لـه خالـد ورور سره کـار تـه لاړ هلتـه بـه د کـار لـه مالـک سره پـه ناندريوو سر وو، هر وخت به د کـار لـه ملګـرو سره پـه بـې ګټـي بحثونـو سر وو او د بحث په پای کې به یې جنګ جوړکړی وو.

میرویس بـه هـر وخـت ورور اومـور تـه دخـارج صـیفتونه کـول او هـر وخـت بـه یـي غوښـتل چـې خـارج تـه لاړ شي او هلتـه ډېـرې پیسـې وګټي، میرویس به خپل ورور او مور ته ویـل چـې پـه نـورو وطنـو کـې پیسې ډېر په آسانه ګټـل کېـږي، دلتـه پیسـې ډېـرې پـه سـخته ګټـل کېږي. هغـه بـه هـر وخـت پـه دې سـوچ او فکـر کـې وو چـې زه بایـد خارج ته لاړ شم، دلته کـار نشـته زمـونږ وطـن کـې بـه څـوک څـه کـار وکړي، دمیرویس په خام فکر کـې بـه دا سـوچ وو چـې، څنګـه بـه لـه خپلو تربرو سره یو شان شي، څنګـه بـه وکـولای شي د نـورو پـه شـان د

موټر خاوند شي او څنګه به د خلکو په میلمستیاوو کې ځان شریک کړي.

مور ته به یې هروخت دا بیانونه کول؛ که زه مسافر شوم دومره دولت به وګټم چې تاسو به یې شمار هم ونه کړئ. میرویس به تل مور ته ویل چې، دغه مشر- ورور زمونږ ډېر بي زړه دی، نه غواړي مونږ پر مخ لاړ شو، چې د نورو خلکو سره سیالي وکړو، ټوله ورځ کتاب ته ناست وي او د معلمیانو صفتونه راته کوي، دې بد فکر د میرویس راتلونکی هم ټکنی کړی وو، په څنګ کې یې ښه خوشاله ژوند په ځان تریخ کړی وو.

خالد اومور یې پوهېدل چې میرویس که هرځای وي هغه میرویس ده چې دا نن دی، او بیا تر بل وطن په خپل وطن کې پیسې ګټل ډېر آسانه دي، خو میرویس کله دا منل چې خارج دي وي او پیسې دي نه وي، خالد به میرویس ته مفیدي مشورې ورکولې، میرویس د خالد مشوري بابېزه ګڼلي او د خارج په بې سرنوشته هاوس کې ډوب وو.

کله چې به خالد میرویس ته د جمات د تللو او یا د مطالعې خبر کوله، د میرویس جواب به دتربرو د ابآدی وو او دابه یې ویل تربورونه مو موټروکې مسجد ته راځي اوزه په پښو ځم، دا زما په غرور نه هوارېږي، تر څو چې زه موټر ونه لرم جمات ته نشم ورتللی.

میرویس دبې لاریوو ښکار وو، خالد نه داچې په میرویس ځورېده، په وړو خویندو، ورونو او کور به له دې زیات فکرجن وو

چې خنګه به خپل کور له ټولنې سره اعیار جوړ کړي، تر څو بیې کور د ټولنې یو کور جوړ شي، نه دا چې د ټولنې عذاب.

خالد ته دابنه په ډاګه وه، چې د ټولنې خوښي په دې کې ده؛ چې کور مې خوښ او با اصلاح وي، میرویس بیا د مادي نړۍ پر دنیا مین وو، او په ښه موټر او ښو کالو پورې یې خوشالیانې تړلې وې...

نور په دویمه برخه کې لولو

د خالد او میرویس همدا ژوند تیرېده چې خالد به سم او میرویس به ناسم کارونه کول، شپې او ورځې تیري شوې اوس دوی دواړه دځوانۍ موسم ته رسېدلي وو، خو بده یې داوه چې میرویس بیاهم داخلاقو په زاړه درشل کې ده، نه یې غوښتل زاړه بد خویونه هېر کړي، پخپلو وروڼو مور اوکور باندي یې د خوشالی شپه نه لوریده، ځکه له بدو خویونو څخه نه لیري کیدو.

میرویس ته مهم کارونه سهار ولیبال اوماسپښین کرکټ کول وو، د خارج بې سرنوشته هوا یې ورځ په ورځ دزړه تل ته غورځېده، نه یې غوښتل دلته په وطن کې کار وکړي، او تل به د بل وطن پر فکرونو او سوچونو کې ډوب وو.

یوه ورځ خالد له پوهنتون نه دکور خواته ځې، په لار کې بازار ته تازه منې راغلي، غوشتل یې منې واخلي، او کورته یې مور، وړو

خويندو او ورونو ته يوسي، كله چې يې جېب ته فكر شو په جېب كې يې (۲۰۰) افغاني دي، په كوركې ورونو دكتابچو غوښتنه هم ورنه كړې ده، په همدې فكر كې ولاړ دی چې ايا منې واخلم چې مور ته مې خوند وركوي اوكه كتابچې واخلم، د كلې يوه سپين ږيري ورته پام شو چې خالد فكرجن ولاړ دی، سپين ږيری چې د خالد اخلاقو متاثره كړی وو، نو زړه كې يې راغلل چې خالد څه اخلې، لكه چې پيسې نه لري نو غږ يې پرې وكړ.

سپن ږيری: خالدجانه! څنگه فكرو ډوب كړی ولاړ يې؟

خالد: بابا جانه! څه به ووايم دلته همدا دبازار گنې گونې ته فكر واخېستم، ماويل كه خدای مكړه كومه بده پېښه وشي، څومره بې گناه كليوال به زيان وگوري.

سپين ږيری: خالده! زه پوهېږم چې ستا فكر دا نه دی؟

خالد: نه بابا جانه! په همدې فكر كي يم!

سپين ږيری: خالد جانه! ستا دي په رب قسم وي ته څه فكر وهې؟

خالد: بابا چې ته دومره ټينگار كوي نو دا خبر دی، هغه منې چې نن تازه راغلي دي.

سپين ږيری: ښه خالد بچيه!

خالد: ماويل منې به كورته واخلم، ځكه د مور مي خوښېږي، غوښتل مې ورته را وايي خلم، هغه مې اوس ياد شول چې پيسې راسره كمې دي، څه مي كورته د ضرورت وړشی هم اخېستل.

سپین ږیری: زه درته هروخت وایم چې کله دي څه شي ته ضرورت پیداکیدو ماته راځه ته هر وخت شرم کوې.

جېب ته یې لاس کړل (۱۰۰۰) افغانۍ یې ورکړي.

خالد: بابا! مننه ستا شفقت اومهرباني به زه هیره نه کړم، کله چې پیسې پیداکړم ان شاءالله سمدلاسه به یې درکړم.

سپین ږیری ورته په خندا شو اوله خالد نه روان شو.

خالد سمدلاسه منې او بیا کتابچې راونیولې اوله ښه زړه سره دکور په طرف روان شو.

کله چې یې د کور په دروازه قدم کېښود، میرویس له خپلې مور سره په توده لفظي شخړه بوخت دی، خالد د دروازې له څنګه ورته ګوري میرویس مور اوخویندو ته لاپې وهي.

میرویس: مورې! ستاسو څکه زه په سترګو سم نه درځم چې پیسې نشم ګټلای.

مور: زویه پلار دي دخلقو نه ځان قربان کړ اومشر-ورور دي تولـه ورځ کار هم کوي درس هم وایي تا څه وکړل درس درنه پاته دی کورکې دي سم چلند نشته، آخیر به څه کوې، زه ستا په راتلونکې غمجنه یم نه ستا په ګټه، مور ته پیسې نه دې مهمې بلکې مور د اولاد د راتلونکي ژوند سمول غواړي.

میرویس: پلار چې مو وطن ته خدمت کاوه څه ګټه یې وکړه لاړ مړ شو، چې مونږ یې چیرته خارج ته لیږلې وای نن به مونږ هم دنورو غوندي موټرو کې سپاره وو، خالد بیا نو تر "بابا"هم کم عقل

ده ټوله ورځ د خلګو تر خولو لاندې دورې دورې کېږي، له غواړې هوسا ژوند راته برابر کړي، ميرويس ته د خالد ښه اخلاق تملق او چاپلوسي ښکارېده.

خالد سوړ اسويلی وکړ او کمکی خور ته يې ور غږ کړ "بلسم "راشه چې نن مې څه درته راوړي، واخله دامنې وه يې وينځه اوبيايې راوړه چې په ګډه يې وخورو.

خالد دميرويس سرنوښت ته فکر جن وو اوتل به يې همدا فکر کاوه چې دميرويس راتلونکی ښه نه ده، څنګه به وکولای شم چې ميرويس ته ښه راتلونکی جوړ کړم.

نوې له خانه سره فکر وکړ ته راځه که ميرويس له واده سره سم شو، کله چې سهار له مور اوخويندو سره په صباناري کښېناست، مورته يي وويل: ګرانې مورې! که خير وو زه هم دری مياشتي بعد له پوهنتون څخه فارغ کيږم، الله به چېرته کار راته پيداکړي، ته هم نوره کمزورې شوې يې نشې کولای دکور ټول کارونه وکړې، او نه غواړم بلسم دوی له درس نه پرېږدم، نو په همدې اساس غواړم چې بايد يوه خبر درته وکړم، څو ته يې په اړه مشوره راکړي.

مورې فکر وکړ چې خالد سپين سترګی شوی دی، لکه چې دکوژدې خبر راته کوي ،خالد ته يې کړه، ښه ګرانه ووايه چې ستا مقصد اوزړه وي زه به هغه ټول درسره وکړم که ساړه ټوکان هم راټولوم.

خالید ووېل: ګرانې مورې! که ستا خوښه او رضا وي میرویس ته به یو ځای کوزده وکړو، ته به هم هوسا شې، بیایې میرویس هم له کوزدې سره سم شي.

مور: ګرانه زویه! دکلي خلک به څه راته وایې چې مشر-دې پرېښود اوکشر ته دې کوزده وکړه، بل دا چې میرویس لا تراوسه ځان نه دی پېژندلای، ښځه به د خپلې ښځې ساتنه وکړي.

خالد له لږ ځنډ چپ پاته کېدو وروسته ورغبرګه کړه، ښکلې مورې! زه پوره مطمین یم که چېرته میرویس واده وه وینې له هغه وروسته به یې ته وګورې چې ښځه د میرویس ځان اخلاق سمېږي او ورسره به یې زموږ ورېندار هم پوه کړي، ته وایې چې خلک به دمشر-اوکشر-انتقاد راباندي کوي، دا هرچاته معلومه ده چې زه یو محصل یم تر اوسه مې تحصل مکمل شوی نه دی او غواړم خپل تحصلات نور هم وغځوم، که واده وکړم داتول راته پاته کېږي، نو ما له تحصله مه بې برخې کوه، ماته خپل تحصل تر ټولو اولیت لري، کله چې مې تحصلات تر یو اندزې مکمل شو بیابه وروسته ګورو، خو نن د میرویس د کوژدې راسره ومنه.

مورېې هم ورسره ومنله، او په سوکه غږ یې ووېل میرویسه خدای دې سرې کړه، چې زه نشم درباندې سترې ستومانه.

په کوټه کې یوه کونج ته بلسم ناسته وه، او خالد ته یې په ګلورین غږ ناره کړه.

که مونږ میرویس لالا ته واده وکړو کانه بیابه میرویس مونږ ته وهې.

خالد ورته وخندل نه ګرانې! کله چې د میرویس کوږده وکړو بیابه هروخت تاسو له خپلې ورینداري سره ډوډۍ خورئ او میرویس به تاسوته له بازار څخه ناوکې، پاپړ اونور شیان راوړي.

بلسم له خوشحالۍ منډې کړې او خپلو نورو خویندو ته یې هم داکیسه وکړه، دوی چې د خوشالۍ غږ تر اوسه نه وو اورېدلای نو هغوی هم دبلسم په څېر له خوشحالۍ نه اوازونه پیل کړل.

خالد اومورېې د میرویس دکوږدې لټون کوي غواړي چېرته سم خای پیداکړي.

یوه ورځ خالد خپلې مور ته وویل: مورجانې!دغني اکا ښایسته لور ده اودوی هم عزتمند خلک دي، مورې ته ورشه دغني اکا دوی کورته مورېې ورته وویل:ګـــــران بچیه! هغوی بډایه او مونږ فقیران یوو، کله به هغوی داومنې!

خالد: مورې زه دامنم چې مونږ دهغوی په نسبت نیستمن یوو، هغوی بیا ښه خلک دي کېدای شي زمونږ غوښتنه رد نه کړي.

مور یې ورته وویل: راځه دواړه به د غني اکا دوی کورته ورشو، کېدای شي غوښتنه مو ومنې. خالد او مور یې په پلې تګ د غني کور په خوا روان شول، مور یې په لار کې فکر کوي چې ګني غني به کله زمونږ سره دوستي ته زړه ښه کړي، په دې نه وه خبره چې اوسنی نړی پر اخلاقو ولاړه ده، او د خالد اخلاق په ټول کلي کې د منلو وړ وو، نو کله چا په مخ واهه، د پنځلس دقیقو پلې تګ وروسته د غني دوی کورته ورسېدل.

غنـي چـې مخکـې د خالـد اومیـرویس د پـلار نـږدې ملگـری وو او د خالد په اخلاقو مـین وو، چـې وه یـې لېـدل خالـد او مـور یـې د دوی کورتـه راغـلي، لـه خوشـحالی نـه یـې اوښـکې پـر مـخ راغـلي، او د ملگرتیا زاړه یادونـه ور تـه یـاد شـول، هغـه یـاد چـې یـوه ورځ دخالـد پلار ورته ویلي وو، زما خالـد چـې لـوی شي او تاتـه یـې درولېږم چـې غني اکا پلار مي ویـل راځـه چـې ښـار تـه لاړ شـو، غنـي هغـو یـادونو وژړا وو او په ژړه غوني غـږ یـې ورنـاره کـړه، خالـده! څنگـه داسـې یـو ناځاپه زمونږ کورته راغلئ؟

خالد چې د یو لوړ فکر څښتن وو، غنـي اکـا تـه یـې وویـل: غنـي اکـا فکر مې وکړ چې، غنـي اکـا زمـونږ د مرحـوم پـلار ملگـری دی، غـواړم دا ملگرتیا نوره هم ورسره ټینگه او اوږده کړم!

له چـای او ډوډۍ خوړلـو وروسـته غنـي اکـا خالـد تـه وویـل: خالـده زویه! له ټینگې ملگرتیا مو مقصد څه دی.

خالد: اکا! مونږ غـواړو ملگرتیـا دي پـر دوسـتۍ بدلـه کـړو او سـتا لـور زما ورور میرویس ته په نامه کړو.

غني اکا: گران بچیه! خبر دي زمـا پـر زړه وکـړه، ستاسـو پـلار دي اللـه وبښـې هغـه زمـا ورور وو، نـو زه کلـه تاسـو تـه ځـواب درکـولای شـم، خالده! ته پوهیږې چې د دنیـا کارونـه بایـد پـه مشـوره او صـلاح تـرسره شي، زه به له خپلـې کـورنۍ سره مشـوره وکـړم او بیـا بـه حـال درکـړم، خو یوه خبر کوم باید جواب یې راکړئ؟

خالد: ووایه اکا په دواړو سترګو!

غني اکا: زویه! مشر ته یې او کوږده ولې میرویس ته کوې؟

خالد: اکا! زما درسونه تر اوسه نه دي خلاص نو که کوږده وکړم، کېدای شي په درسو کې مې نېمګړتیا راشي، نه غواړم درسونه نېمګړي پرېږدم.

غني اکا چې په زړه کې هرڅه وو پر خوله یې هېڅ ونه ویل، خالد او مور یې په خوشحالي رخصت کړل، او ډاډ یې ورکړ چې صبا یا بل صبا به زه احوال درکړم.

خالد او موریې هم د کور خواته په خوشالي روان شول، تر لږ ځنډ پلې تګ وروسته بیرته کورته راورسېدل...

نور په دریمه برخه کې راسره وګورئ!.

خالد او مور يې د غني اکا له کور ځخه را ورسته درې ورځې انتظار وکړ، درې ورځې د خالد په کورنۍ لکه کال هومره شوې، ځکه د پلار له مرګ وروسته يې لومړنۍ خوشالي اوښادي ده چې دوی يې ويني.

دخالد خويندې بلسم، کلثوم، او وړه کې فاطمه کله له خالد او کله د خالد له مور نه دسمالونه اوکله بيا دريا غواړي، هر وخت له همزه سره چې د دوی ورور دی، په دې يې دعوه وي چې مونږ به د ميرويس د خسر- کورته ځو او ته نه، هروخت د دوی فرمايشونه وي، هره شپه دميرويس دکوزدې دورځې په هيلو او اميد وېده کېږي، صبا سهار دکوزدې دمراسمو ورځ دی، دوی نن

له مکتب څخه د صبا ورځې رخصتي له مدیر صیب څخه واخیسته.

سهار د ناري په وخت خالد خپلې مور ته وایې: مورجانې! لکه څنګه چې نن د کوزدې کولو ورځ ده، اوزمونږ خدای بښلی پلار د همدغې ورځې په انتظار له نړۍ لاړ، نو راځئ نن ټول هریو بېل بېل سورة یاسین او ورپسې دوه رکعته لمونځ د مرحوم پلار د روح په خاطر وکړو.

مورېې له اوښکو ډکې سترګي دجای نماز په خوا ولاړه شوه او ورسره یې څنګ کې واړه ورونه اوخویندې ټولو سورة یاسین اودوه رکعته لمونځ وکړل، د لمانځه له فراغت وروسته خالد اومور یې د خلګو ګمارل شروع کړل باید څوک وي او څوک نه وي، په کور کې هم هاش موش جوړ دی، اودروازه ټک ټک وټکېده.

د خالد ورور طایب زر له ځای نه جګ شو او د دروازې په لور روان شو، بېرته چې راستون شو، خالد ته یې ناره کړه.

خالده وروره! دغني اکا زوی غواړي تاسو سره وګوري، خالد هم دستي د دروازې خواته لاړ، مور اوخویندې یې حیرانې ولاړې دي، ګمان کوي خدای مکړه کوم بد خبر رانه وړي، کله چې خالد دروازې ته ورغی، د غنې اکا له زوي سره یې ستړی مشې وکړه او ورته یې د چای څښلو وویل، دغني اکا زوی په کلکه دچا ی نه خوړلو معذورت وغوښت، خالد یې هم معذورت ومانه.

خالد: ښه ګرانه! ځنګه راغلاست دمراسیمو په باره کې زه ماښام ل
غني اکا سره وغږیدم.

دغني زوي: بابا ویل چې ماښام زما له یاده ووتل، خالد ته ووایه
چې مور به دي خامخا په دې مراسیمو کې شتون لري، اوبل کسان
چې هرڅومره زیات وي فکر مه ورته کوه ما دلسو (۱۰) نفرو تیاری
کړی دی.

خالد: مننه سهي ده الله دي غني اکا خوشاله کړي، دمور ګډون
مو نن ماته خوشالی دوه چنده کړه خیر دې نصیب شي، که دې
چای څښلی وای خوشاله شوی به وم.

دغني زوي: خالده! مونږ نن ډېر کارونه لرو اوتاسو به هم کار لرئ،
بیابه چای سره څښو چې وخت یې راشي، نن یې وخت نه دی،
اوس درنه لاړم الله مو مل شه.

خالد د کور خواته راغی او مور ته یې وویل.

ګرانې مورې! الله دی غني اکا خوشاله لري، زوی یې رالېږلی وو
اوستاسو د ورتګ غوښتنه یې کوله، مورېې هم خوشاله شوه.
غرمه شوه خالد او مورېې د کلي مشران له خالد سره دغني اکا د
کور په لور حرکت پیل کړ، کله چې دغني کورته ورسېدل، غني
اکا یې په اړه ښه تدابر نېولي وو او دمېلمنو یې ښه تود هرکلی وکړ.
ډوډۍ شروع شوه او هر خوراک تیار شوی دی، خالد چې دا یې
اول ځل وو چې په یو داسي مجلس کې ګډون کوي، چې هر څه

ورته نوي ښکاري، تعجب وړی دی، او دپلار نشتون یې زړه باندې وربېږي.

د خالد مورته هم ښه تدابر نیول شوي وو، او د کور ټولې ښځې د خالد مورته خدمت لپاره ولاړې دي. ډوډی ختمه شوه او دمیوو کتارونه رااوان شول، خالد هک پک پاتي دی، خالد چې د لوړ فکر خښتن رب پیدا کړی وو، یوه خبر یې وکړه چې دمشرانو کشرانو پام یې ځانته واړاوو.

غني اکا! که زه مخکې پوهیدم، چې د دوستي خوند اومحبت په ډوډی اومیوه کې نغښتی دی، ما به دا دوستي هېڅکله هم نه وه کړې.

غني اکا! دومره مصاریف او بې ځایه خرڅ دي کړی دی، باید دومره خرڅ نه وای شوي، زما اوستا محبت په زړو کې دی نه په ډوډی کې.

غني اکا په سونډو کې وخندل زویه! دا خرڅې زمونږ اوستا په منځ کې هېڅ هم نه دي.

د خالد په خنګ کې مشرانو یې هم دغني اکا څخه مننه وکړه اوډخوشحالي اظهار یې غني اکا ته وړاندې کړ.

ډوډی هم خلاصه شوه ،چای او میوه هم خلاصه شوه او د ولور کیسه شروع شوه.

لومړی له خالد سره راغلي یو ستر مشر دا خبر داسې وکړه؛

غني! له تکلیف خخه دي مونږ ټول مننه کوو اوس باید اصلي موضوع ته لاړ شو.

زمونږ دلته راتګ غني تاته ښه معلوم دی چې، ته خپله لور د خالد ورور میرویس ته نوموې، او ته په دې هم ښه پوهیږې چې په دې کلي کې خالد د ښو اخلاقو خښتن دی اودا هم درته معلومه ده چې دخالد دوی ابا مرحوم پلار ستا ملګری له دوی نه په داسې وخت کې لاړ چې دوی ډېر وړوکي وو، اوس د هغوی اقتصادي وضع سمه نه ده، ته بدایه کس یې له مونږ سره مرسته وکړه او داسې ولور وټاکه چې د خالد د ناتوانۍ سبب نه شي.

غني اکا: محترمو مشرانو! چې تاسو له خالد سره راغلي یاست زما خان خیکر یاست، کورمو ودان، باید ووایم خالد زه ښه پیژنم، محترم مشره نن صبا کوژدې او ودونه ته ښه وینې او د نن صبا دې بې خایه رواجونو اورسمونو معلومات له مانه تاسو ته ډېر دی، بل خوا د خالد دوی پلار یو غیرتمن خوان وو نو زه نشم کولای د ولور په اړه څه ووایم.

بل سپین ږیري وویل: غني که ته دا سوچ کوې چې مونږ کوچني یوو او پام مو اړوې، مګر نه مونږ کوچني نه یوو، په ټولو چارو ښه پوهیږو چې لور ستا ده ولور یې باید ته پخپله وټاکې، که چیرته ولور زیات وو مونږ به یې نه منو اوکه سهي وو دعا به وکړو.

په کوټه کې ټولو خلکو سره وخندل اوغني اکا یودم جګ شو ښه چې تاسو مو نه پرېږدی، زه هم اړ یم چې باید له خپلوخپلوانو سره مشوره وکړم.

غني اکا بهر لاړ او ورپسې- يې خپلوان يو يو بهر ته ووتل اومشوره يې وکړه، ولور يې ( ۳۵۰۰۰۰) دری نيم سوه زره افغانی تعين کړ، بېرته کوټې ته راننوتل، سلام يې وکړ، ناستو خلکو د سلام خواب ورکړ، خالد چې دا يې اولنی خل وو نه پوهېده چې څه ووايي او څه ونه وايي، کرار او غلی ناست دی. د خالد سره راغلو مشرانو غني اکا ته وويل: ته پوه او هوښيار يې ان شاء الله چې خالد ته مو يو ښه او مناسب ولور ټاکلی دی، راځئ د خير دعا به وکړو، غني اکا زوی ته ورغږ کړ، هله زر مالګه او دسمالونه راوړه، زوی يې مالګه او شربت راوړل او مشرانو د دعا لاسونه پورته کړل، وروسته له دعا مشرانو غني او خالد ته مبارکي وويله، غني اکا خالد ته ور ناره کړه، خالد زويه! الله پاک دې درته د بخت کړي، کېدای شي اوس مو زړه خوشال شوی وي، خالد چې په دې نه پوهېده چې خوشال يم که خپه، له وارخطايي څخه يې غني اکا ته وويل، اکا خود به خپه يم، مشرانو ټولو ورته وخندل، او ورته يې وويل خالده! په روپو لکه چې خوا بدی شوي، خالد هم له شرمه سترګي ښکته واچولي او چاته يې نشوای کتلای.

غني اکا ورته وويل: خالد زويه! مه وارخطاء کېږه، زما دنيا اوس ستاسو دی چې کوم وخت دي غوښتل واده وکړي، هسې راته ووايه چې ټول لګښت زه په ځان کړم.

خالد وويل: نه اکا د پېسو خبر نه دی، نه پوهېږم چې زه څنګه يم.

مشرانو له غني اکا څخه مننه وکړه او ورته يې وويل غني زمونږ دې ډېر قدر وکړ الله دې ستاسو دوستي قدرمنه لري، راځئ دخير دوعا وکړو او لاړ به شو، غني يې هم په خبره امين ووايه او دتللو دعا يې وکړه، د غني له کوره د خالد دوی کورته راغلل.

خلک راغلل د خالد په کور کې ښادي جوړه ده، د خوشالي هنګامي دي هشت ومشت جوړ دی، په ميرويس هم چا زېری وکړ ميرويس هم خوشاله دی، ملګري يې ورته تودې تودې مبارکی وايي او د ميرويس په تنده کې خلا لګېږي، مخ يې سور اوسپين دی ملګري يې د غني دوی صيفت ورته کوي او له ميرويس څخه د مېلې جوړولو غوښتنه کوي، ميرويس چې نيمکله مشر-خان ورته ښکاري ملګرو ته دمېلې يا ساز جوړولو ډاډ ورکړ.

خو کله چې ځوانان خالد ته راغلل، خالد يې غوښتنه رد کړه او دليل يې ورته دا ووايه چې په ښکته کلي کې پرون ښايسته ځوان مړ وو، نن به زمونږ په کور کې ساز وي، هغوی به څه احساس کوي، که نن پر ما ښادي ده خو په هغوی لوی غم دی، کېدای شي صبا مونږ غمجن يوو، دوی به ښادمن وي، خالد ورته وويل: ځوانانو! ټولنه د يو وجود په شان دی که په وجود کې يو ځای دردمن وي ټول وجود ورسره درد کوي.

ځوانان د خالد دوی له کوره را وه وتل، ميرويس خپلو ملګرو ته وويل: خالد له ماڅخه مشر-دی او بل يې د کوزدې وار هم ماته راکړ، نشم کولای چې څه ورسره وکړم، دا وار خو تير شو د واده په اوله ورځ به لومړی سازګران راولم بيا به واده کوم، که خلک

غمجن دي موږ يې غم نه شو ختمولی، نو ولې خپله خوشالي د دوی په غم غمجنه کړم.

دخالد مور او خویندې هم د مېلمنو هرکلي ته ولاړې دې، او دري څلور ورځې یې په کور کې د ښځو او نرو قطارونه ځي او راځي، طایب او همزه هم سترې ستومانه د خلګو په خدمت کې لګیا دي، یوازې میرویس دی چې نه په خدمت خبر دی او نه هم د دې په سوچ کې دی چې د مېلمنو خدمت وشو اوکه نه.

دري څلور ورځې باد یې له کوره د مېلمنو دوران کم شو،

کلثوم، بلسم، فاطمه او همزه غواړي د میرویس ښځه وه ویني او تل له خپلې مور څخه غواړي چې موږ به کله د غني اکا کور ته ځو چې خپله وربندار وه وینو...

نور په څلورمه برخه کې ولولئ!.

د میرویس د کوژدې له مراسمو درې میاشتې وروسته د خالد هغه وخت راغی چې ده ورته په کلونو، کلونه زحمت ایستلی وو، صبا نه د خالد د فراغت ورځ دی، د خالد ملګري څوک ښکلي جامې اخلي او څوک د خپلوانو په رابللو لګیا دي، خالد نه داچې جامې واخلي دکور او ورونو په فکرونو کې ډوب دی.

سهار د ناري په مهال خالد مورته وویل: ګرانې مورې! له څلور کاله زحمت وروسته نن د الله په مرسته زما د فراغت ورځ راغله، له الله څخه راضي یم، الله تعالی دي زما خدمت او زحمت راڅخه قبول کړي، نن ماخستن به خیرات کوو که ستا رضا وي.

مورې له اوښکو او سوړ آسویلي سره وویل: ګرانه زویه! پلار دې څومره زحمتونه تیرول ستا دهمدغې ورځې په آرمان وو، الله تعالی دهېڅا هم په دې نېمګړي دنیا آرمان نه دی پوره کړی،

پلار دې هم ستا په دغه آرمان له کوره لاړ اوهمدا تراوسه مې بيا ونه لېد.

گران بچيه! کله چې دې پلار له دې دنيا گډه وړله، په هغه سهار چې ته له کوره دپوهنتون په طرف لاړې اوله موږ نه دې خداى پاماني واخېسته پلار دې راته وويل، زه به پوهيږم چې يوه نه يوه ورځ به له دې دنيا لاړشم، خوکشکې چې دخالد گل دفراغت ورځ الله پاک راباندې ليدلې واى، کله چې له کوره ووت له دروازې نه يې ماته غږ وکړ، خالد چې کله راغى دومره ورته ووايې، چې د ميرويس او نورو وروڼو، خويندو د خدمت تمه دې له تحصل څخه بې برخې نه کړي، چې کله يې دا خبر وکړه له کوره لاړ او ما هم له هغې خبرې وروسته د زړه تکان شروع شو تر دې ننه په کرار نه شو اونه به ترمرگه په کرار شي، دايې وويل او په خمکه راپريوته.

خالد زر ميرويس اوطايب ته غږ کړ،

هله، هله، زر راشئ اوطايبه ته زر ديوه موټر بندوبس وکړه.

طايب هم وراخطاء له کوره بهر د موټر پيداکولو په خاطر په منډه لاړ.

د کوړپه هر کونج کې ژړا جوړه شوه، بلسم يو کونج کې، فاطمه بل کونج کې، کلثوم په مور برسيره غټې غټې کوکارې وهي.

ميرويس لکه څنگه چې يې د فکر کچه کمه وه، په ژړا سر دى او له کمو وروڼو اوخويندو دى ډېر ژاړي کله دمور سر ته اوکله پښو ته

ودرېږي، وای زما مورجانې، وای زمـا مورجانې، بس پـه همدا نارو یې سر دی.

خالـد کلـه بلسـم اوکلـه کمـو ورونوتـه ورشي اوتسلیت ورکـوي، میرویس تـه وایـې: میرویسـه! دایـې حـل لار نـه دی، لږ دې وړو تـه وګوره، میرویس قسم اخیستی د کراري یـې هـیڅ تمـه نشته، د ګرانـې مور جدایـې ورتـه ډېره سـخته ښکارې نـه شي کـولای خـان کنټـرول کړي.

طایـب مـوټر راوسـت، خالـد میـرویس طایـب او دمـوټر مـوټروان دخالـد مـور پـه ځمبیـل کـې تـر مـوټره ورسـوله، خالـد لـه مـوټر سره وخوت او میـرویس تـه یـې دپاتـه کېـدو وویـل، میـرویس نـه غوښـتل پاته شي له مور نه یوه لوېشت هـم نـه ایخـوا کېـږي، خالـد همـزه تـه سپارښتنه وکړه او د وړو د زړه د اراملو لپاره یې پرېشود.

موټر له کور څخه د روغتون په طرف لاړ، کله چې مـوټر روغتـون تـه ورسېد، سمدلاسه یې دخالد مـور عاجـل خـونې تـه یـووړه. هلتـه یـې مور پـه عاجـل خونـه کـې وه، میـرویس یـوه کـونج تـه ولاړ دی ورو ورو سلګی وهي، خالد د میـرویس ځنـګ تـه ورغـی پـه میـرویس یـې لاس کېښـود او ورتـه یـې وویـل: ګـران ورور‌ه! مـونږ بـه لـه دې هـم سختې ورځـې وینـو، تـه چـې څـه کـوي دا سـمه لار نـه دی اونـه د مشکل حل په ژړا کیږي، تـه وګـوره بلسـم دوی تاتـه کتـل هغـوی هـم ژړل کـه چېرتـه تـا نـه وای ژړلي کیـدای شـوای دهغـوی پـام موغلـت کړی وای. چې تا ژړل مـا نشـوای کـولای چـې ټـول کـرار کـړم، اوبیـا اوس دلتـه کلنیـک کـې خلـګ راځـي کېـدای شي اوس دي د خسر-

له کوره هم څوک راشي، هغوی به څه وايي، چې زموږ زوم ...
دومره توانايي هم نه لري، ميرويسه! سترګې پاکې کړه راځه
چاى درته راوړم، چاى وخښه کور دى هم چاى وښه څښ...
ميرويس له غريبه ډک ورته وويل، وروره! نه غواړم څه وڅښم
اونه مي زړه ته کېږي، که زموږ مور مړه شوه موږ به چېرته څو.
خالد ورته وويل: ورور ګله! بې ځايه فکر مه کوه داسې فکرونه کم
عقلان کوي، زموږ مور باندې يوه لړزه راغله الله ته دعا وکړه دا بې
فايدې انديښنه دې روحيه ښکته کوي.

ميرويس له مخکې نه لږ سم شو، د خالد تيليفون ته زنګ راغی.
خالد تيليفون ته جواب ورکړ، کله چې يې تيليفون کته کړ،
ميرويس خالد ته وويل څوک وو؟

خالد وويل: ملګرى مې محصل وو، ويل يې په نيم ساعت کې
دفراغت مراسم پيلېږي، تاسو ولې نه راځئ.

ميرويس ورته وويل: وروره! څه ته ورشه اوزه به مورته پاته شم.

خالد وويل: ميرويس ګله! ته دلته پاته شه زه به يوه ګنټه لاړ شم،
که څوک مو دمور پوښتني ته راغلل، په اطمنان يې ميلمه پاته
وکړه، هرڅه چې پېښ شول دالله امر نه راضي يوو، ميرويس هم
ورته ډاډ ورکړ، خالد ورڅخه روان شو.

خالد له کلنيک څخه دپوهنتون په طرف روان شو، په لار کې يې
د ورونو زړا ګانې د خويندو نارې يې مخته مخته کېږي، بل
خواته د چا نشتون د فراغت په مراسيمو کې دا ورته لا ډېر زړه

خرابونکي ول، بل طرف یې دمور دغه خطرناک حالت، خو خیر خې داللـه امر تـه غاړه ایښودنکی روان دی، غمجنـي او وشـلنې سترګي د پوهنتون انګړ ته ورسېد.

له هرچا سره پـلار، مـور او ورونـه راغـلي، خپلـو محصـلنو تـه یـې رنګارنـګ هارونـه جـوړ کـړي، یـوازي خالـد دی چـې دهـارونو اوتشویقولو فکر ته خـلاص نـه دی، د ورونـو زړا ګـانې یـې لـه زړه کلـه وځي، د مور نازک حال یې تر سترګو، سترګو کیږي.

د فراغـت مراسـم شروع شـول هـر محصـل ښـه تشـویق شـو د یـوه پـه خای ورته دری څلور هارونـه غـاړو کـې واچـول شـول، مـدیر د خالـد د نتـایجو اعـلان وکـړ او خالـد یـې وروغوښـت، لـومړی یـې ورتـه د فراغـت مبارکي وویله اوبیا یـي د فراغـت سـند ورکـړ وروسـته یـې هغـه ډالـی ورکـړي چـې خالـد تـه ځـانګړي شـوي وي، لکـه د پوهنتـون اداري له خوا ډالـی او دوهمـه د حکمـت لـه خـوا ورکـړل شـوه چـې د خالد ملګری وو.

دواړه ډالـی یـې واخېسـتي خلګـو پـه چـک چـک کولـو تشـویق کـړ خالد له مدیر صیب او حکمـت څخـه مننـه وکـړه، دتـالار خواتـه روان شو کله چې تالار تـه راغـی یـوه ښـوونکي یـې ورتـه پـه قهرجنـه لهجـه وویل، خالده! له تاسره چـې څـوک نـه وو ولـې دي ماتـه مخکـې خبـر رانه کړ، چې ما درته یوڅـه شـی برابـر کـړی وای، خالـد پـه غـریبجن غږ وویل: استاذ صیب! نـن زمـونږ پـه کـورکي تصـادفي مشـکل پیداشـو له دې وجي څوک راسره رانغلل او نه مو چاته خبر ورکړه.

استاذ ورته وویل: الله دې خیر کړي ولې څه مشکل وو، الله دې نکړي چې بد خبر وي.

خالد د مور پېښه بیان کړه استاذ ورته ډاډ ګیرنه وکړه او مور ته یې د شفا دعا وکړه، کله چې د فراغت مراسم خلاص شول استاذ خالد ته وویل: خالده! وخت کم وو نه مې شوای کولای چې لیرې لاړ شم او ستا لپاره مناسبه ډالۍ راوړم، څکه ستا اخلاق په لوړه ډالۍ ارزي، په هر حال دغه وړه ډالۍ چې لاسي ساعت دی، دلته لنډ مې پیدا کړ دا درواخله، خالد د استاذ نه مننه وکړه او ډالۍ یې ورڅخه واخیسته.

د خالد یو بل ملګري هم خالد ته ډالۍ ورکړه او خالد له هغه څخه هم مننه وکړه او په خورا درنښت یې وویل، الله مې دی بې تاسو هېڅکله نکړي.

کله چې نیمې خلګ لاړل خالد ته د ټیلیفون زنګ راغی، خالد په ډېر وارخطاء یې سره جېب ته لاس کړ او پر ناکراره غږ یې ورته وویل: ووایه میرویسه! مورجانه څنګه ده؟ میرویس وویل: وروره! لومړی د فراغت مبارکي درته وایم او بیا ښنه غواړم چې مونږ له تا سره ملتیا ونکړه، زما چې څه په زړه کې وو الله راسره ونه کړل، خو د خوښې خبر دا دی چې مورجانه الحمدلله اوس ښه ده او مونږ د کور په طرف روان یوو.

خالد له خوشالي څخه مخ تک سور شو او ورته یې وویل: الحمدلله مور مو ښه شوه، ټیلیفون یې کته کړ او دشکر سجده یې کېښوده.

خالد کورته راغی همزء یي مخته رامنډه کړه او ورتـه یـي دمـور د ښـه والي وويل، خالد چې کله مـور ولېـده لایـې زیـات طبیعـت ښـه شـو، مور ته يي وويل: مورجانې! څنګه يي؟

مور: زويه! جار ښه يم په تا مي بيا خوشالي ترخه کړه.

خالد: نه مورجانې! ستاسـو صـحت ماتـه تـر هرڅـه مهـم دی او ستاسـو په صحت زما خوشالي دوه برابره شوه.

مور يې هم د فراغت مبارکي ورکړه او د برکت دعا يې ورته وکړه.

خالـد د کلـی پـه مکتـب کـې د سر ښـوونکي دنـده پيـل کـړه او د ميرويس د واده تياری يي شروع کړ.

همـزء هـم لـه دولسـم صـنف څخـه فـارغ شـو، همـزء لـه وړکتونـه د ډاکټـري مسـلک سره علاقـه درلـوده، تـل بـه يـي د ډاکټرانـو چلونـه کول، کله چې همزء لـه دولسـم صـنف څخـه فـارغ شـو، نـو خالـد تـه يي وويل: وروره! زه غـواړم د طـب پـه پـوهنځي کـې دا خلـه واخلـم، خالد د همزء پـه انتخـاب پـوه وو، نـو همـزء يـي د طـب پـه پـوهنځي کې داخل کړ.

په دې وخت کې يوکال د ميـرويس د کـوزدې تېـر شـو، غني اکـا تـه يې د واده کولو وويل، غنـي اکـا ورتـه وويـل: خالـد زويـه! مـا مخکـې هـم درتـه ويـلي وو، چـې کـه پيسـې درسره نـه وې، د واده ټـول سامان به زه راوړم، نو اوس بيـا درتـه وايـم، خالـد ورتـه وويـل نـه اکـا ان شاء الله چې ټول هرڅـه بـه اللـه سـم کـړي، ستاسـو دي کـور ودان وي، که کله مجبور شوم بيا خامخا درته وايم.

د میرویس واده تیار شو، په ښه جوش کې یې واده راوړ، میرویس له واده سره نوی ژوند پیل کړ، او ژوند یې له خوشالیوو ډک وو. د کور کارونه یې سم پرمخ تلل او د خالد دوی مور هم هوسا او آرامه وه، د کور په انګړ کې به هر وخت خوشالي جوړه وه، د ښکلا او آرامي ژوند یې جوړ کړ...

نور په پنځمه برخه کې راسره وګورئ!.

وروسته له واده څخه د خالد خویندې هر وخت په خوشالي له خپلې ورېندارې سره د کور په کارونو کې ښکیلې وي، بلسم، کلثوم او فاطمه هره یوه غواړې چې د ورېندارې په څنګ کې ناستې وي.

میرویس له مخکې نه د بل وطن خوبونه لیدل، یوځل بیا یې د بل وطن زړه راجګ شو او خالد ته یې وویل: وروره ما څو ځله درته ویلي چې، زه غواړم چې په بل هېواد کې به کار وکړم، د غربت له ژوند څخه به کور وباسم، خالد چې هر څومره ورته وویل چې تر بل وطن په خپل وطن کې ښه کار کېږي، میرویس نه منل او له خالد سره نه قانع کېدو.

خالد د میرویس له سختو غوښتنو تنګ شو، بله ورځ یې مورته وویل، مورې! میرویس مې ډېر تنګوي چې ما بل وطن ته ولېږه

زه به هلته کار وکړم او پیسې به وګټم. زه چې هر څومره ورته وایم نه مني، مور یې ورته وویل: خالد زویه! میرویس ډېر بد نه وایي، د کلي خلګ ټول په نورو هېوادو کې مسافر دي، د ټولو ژوند ښه جوړ دی او مونږ تل له بد حال سره مخ یوو، پلار دي دلته څه وکړل همداسي له دنیا لاړ، ته د میرویس ومنه که خدای چېرته په بل هېواد کې مخه ورکړه، په دې مه خوابدی کیږه چې میرویس مسافر دی، ته وګوره د کلي خلګ تر نیمی زیات مسافر دي، نر پسه خدای پیداکړی حلالولو ته دی، او داسي نور ناسم دلیلونه یې خالد ته وویل، خالد چې زړه یې نه غوښتل او بل خوایې مور هم نشوای خپه کولی، نو زړه نا زړه له خپلې مور سره قانع شو.

خالد د کلي یو نفر ته چې په کویټ کې مسافروو ټیلیفون وکړ، ورته یې وویل چې که دي زما ورور میرویس ته ویزا راولېږله، هغه د خالد غوښتني ته مثبت ځواب ورکړ او ورته یې وویل: چې سهي ده میرویس ته پاسپورټ ور جوړ کړه او د پاسپورټ کاپي یې را ولېږه.

خالد میرویس ته وویل: صبا لاړ شه او پاسپورټ جوړ کړه فلاني کس ته یي ور ولېږه.

میرویس په جامو کې نه ځاییږي، ولې دی د بل هېواد په سوچو کې لیونی وو، فکر یې کاوه چې کله بل هېواد ته لاړ شم سمدستي به د پیسو بنډلونه راټولوم، په کم وخت کې به د کلیوالو

په شان یو بدایه کس شم، خبر نه وو چې د بل هېواد مزدورۍ د زړه وینه وچوي.

میرویس صبا ولایت ته روان شو خو پاسپورټ جوړ کړي، هلته چې څوک وه وینې، ورپه خنګ شي ته کوم ځای ته پاسپورټ جوړوي، زه له خیره کویټ ته روان یم، هغه غریبان میرویس ته حیران دریان وي چې ته وګوره میرویس بختور کویټ ته ځي.

یو ځوان چې مخکې دوبی ته تللی وو، میرویس ته وایي چې ډېر مه خوشالېږه بل وطن کې سخت دردونه وي او بیا عرب خو نو تا نه دي لیدلي، ډېر خراب دي، په غریبانو سخت ظلم کوي، اجنبي ته د خپل ځان اختیار هم نه ورکوي، خو میرویس دا هرڅه درواغ ګڼل او خپل هاووس پسې اخیستی دی.

لسمه شپه بعد یې پاسپورټ جوړ شو او کلیوال ته یې کاپي ور ولېږله، کله چې یې دپاسپورټ کاپي کویټ ته ولېږله، میرویس به تل د کلي له ځوانانو سره قولونه کول، له چا سره به یې د ډالي وعده کوله، ویل به یې که زه په خیر لاړم ټولو ته به ښایسته ډالي رالېږم، کلیوالو ځوانانو به هم میرویس ډېر نېکمرغه ګاڼه او د میرویس د ښه بخت ستاینه به یې کوله، میرویس په کلي کې ځانګړی نوم پیدا کړ، هر ځوان به غوښتل د میرویس ملګری جوړ شي، ځکه میرویس هغه ناخبره او د خو شپو نېکمرغه وو چې له خپل برخلیک سره یې لوبې کولې، ځوانان هم د ده خبرو له کاره ایستلي وو، ولې میرویس به سهار یو شان او ماښام بل شان کالي اغوستل، ځکه چې په لنډو شپو کې به میرویس مسافر شي، نو په

دي خاطر يې کور کې هم عزت کاوه، ښځې او مور به يې هر وخت ورته ويل نن چېرته مه ځه بيابه مسافر شي، ميرويس چې به د مسافر غږ واورېده، ځان تـه بـه تعجب واخېست، چې ميرويس بـه نه وي، ټول خلک يې څومره عـزت کـوي، دا مـزې چې د مسافري په سر کې دي نو چې مسافر شم څومره مزې به وي.

يـو وخـت سـهار ميرويس خالـد تـه وويـل: وروره زه خـو وايـم چې، همزء او طايـب تـه هـم پاسپورټ جـوړ کـړه چې ځنګـه زه ورسـېدم، دستي بـه د دوی د وېزا بنـدوبس وکـړم. خالـد ورتـه وويـل: ميرويسه! همزء د طب زده کړي کـوي پـه سختـه ډېـرو پيسـو يـې هـم زده کـړي نـه پرېـږدم، او طايـب لا تراوسـه لـه لسم صـنف څخـه نـه دی وتلـی، چې کله دولسم صنف خلاص کړي بيا به ګورو.

ميرويس ورته وويـل: وه خالـده! تـا څـه وکـړل زده کـړي دي خـلاصي کړي، کومـه فايـده دي وکـړه، خالـد ورتـه وويـل: ميرويسـه مـا ډېـره فايده کړي ده، ته يې ځکـه نشي-ليـدلای چې تـه ړونـد يـې او ړونـد د روښنا په نعمت څه پـوهېږي، ميـرويس ورتـه وويـل: کـه خـدای زمـا ويزا سمه کړه، بيا به تـه وګـوري چې څـوک فايـدمن دی، خالـد سـوړ اسويلي وويست او ميرويس ته يـې وويـل تـه پرتـه لـه مسافري پـه نـور څه نه پوهيږي،ان شاء الله ډېر ژر بـه معلـوم شي کشکې تـا دلتـه کـار کـولای، ميـرويس ورتـه وويـل: خـدای دي دلتـه کـار نـه راسـموي، چې دلته ټوله ورځ کار کـوي دری سـوه روپۍ اخلې هلتـه چې نـيم ساعت کـار وکـړي دری زره روپۍ اخلـې، نـو اوس کـوم ځـای

فایدمن دی، تا خو هم لکه چې بې ځایه وخت په پوهنتون کې تېر کړی دی.

شپې ورځې تېري شوي بله ورځ خالد ته کلیوال زنګ وکړ چې د میرویس وېزا مې واخېسته او مسافر ته مې ورکړه بیا یې ورځخه در واخله، خالد میرویس خبر کړ میرویس په ټوپو شو او له خوشالۍ څخه یې ټوپونه شروع کړل، بلسم دوی ته وایي چې زه لاړ شم تاسو ته به هغه او دا راوړم، مور او ښځه یې هم خاندي، خو یوازې خالد د میرویس په بر خلیک سخت اندیښمن دی.

مور یې خالد ته وویل: مه ډارېږه میرویس ګل به ښه په مخ لاړ شي، پیسې به وګټي او مالدار به شي، خالد ورته وایي مورې! په خدای که د میرویس دا فیصله سمه وي، سمه ده وبه ګورو چې څه کېږي.

میرویس ورغی او له مسافر څخه یې وېزا راوړه، ښځې ته یې ورکړه چې وېزا سمه کېږده، چې درنه خرابه نشي.

په کلی کې هم خلک خبر شول او میرویس ته ځوانان ملګري د وېزا مبارکي ورکوي، څوک یې بختور یادوي او څوک ورځخه دشیریني غوښتنه کوي، میرویس د شیریني لپاره غوښه راوړه او له ځوانانو سره چکر ته لاړ، په کلي کې د میرویس نوم پروت دی، میرویس چې هر ځای وي خلک د مبارکۍ نارې ورته وهي.

دری څلور شپې په همدې کې تیري شوي، بله ورځ یې خالد ته وویل زه به لاړ شم صبا ته مې دوه ملګري هم پیداکړي دي، خالد

ورته وویل میرویسه! ما خو نه غوښتل چې مسافر دي کړم خو تا غوښتل در پېښ شول، اوس خان ورته کلک کړه هسې نه د خلګو خندې شي، میرویس ورته په ډاډمنه لهجه وویل: غم به یې نه کوې درې میاشتې بعد به خامخا تاته کوزده کوم، او ښه ځای به درته غواړم، داسې ځای چې ښه ډېر شیان راکړي نه دغني په خېر، خالد ورته وویل: د غني په خیر دوستان به نه کړو پیدا، دا اوس هم د ده په پیسو ته روان یې. اوس دي الله خیر کړي تا دې الله هلته کامیاب کړي او دا پنځوس زره افغانۍ در واخله د ټیکس او دلارې خرڅ یې کړه، ستا زړه هروخت په مادیاتو کې وي معنویات تاته ارزښت نلري او نه یې پېژنې.

میرویس ماسپښین له ملګرو مسافرو سره دصبا لپاره د تګ تصمیم ونیوو، خپلو ملګرو ته ورغی، چې زه صبا ځم هغوی هم د خدای پاماني لپاره ورته راغلل، ځینو ورته دمیوو ډالۍ هم راوخېستې، او هر ملګري د وېزا غوښتنه ورڅخه وکړه، نور یې میرویس رخصت کړ، میرویس مابنام کورته راغی، مور، ښځه، ورونه، خویندې یې د میرویس سترګو ته رڼ، رڼ ګوري میرویس د نور کله په شان نن نه دی، ماخستن یې د ښځې زړا د زغملو ورته نه وه، او میرویس یې هم زړا ته نږدې کړ، سهار شو میرویس بد، بد ګوري چې هسې زر له کوره ووځم، خالد ډاډ ګېرنه ورکوي چې میرویسه اوس تکړه شه، خپله غوښتنه دي ده، میرویس نن د نور کله په شان نه غږېږي، ډک، ډک کېږي کله مور او کله خویندو ته و ګوري، همزه او طایب هم د میرویس حالت اغیزمن کړي وو او د د غوني ښکاريدل.

مور يې هم ژاړې او کله کله دا هم وايي، چې خپل وطن مو روغ وای ولې به داسي په بد حال وو، ميرويس ور مخکې شو مورې زه درنه لاړم غېږ راکړئ، مور يې ورته وويل: زويه الله دې مل شه الله دې په لوري شه. ميرويس له کوره څخه را ووت، مور يې کلثوم او بلسم ته وويل، هغه اوبه او غنم را واخلئ، کله چې ميرويس له دروازې قدم واخېست خويندو يې له شا اوبه او غنم ورپسې وشېندل، ميرويس ته د دروازې له باندې خپل همزولي او ملګري هم راغلي وو، ټول ورته ولاړ وو ميرويس خالد ته وويل، وروره په همزء طايب او مور مو پام کوئ، نور دي الله مل شه، لومړی يې خالد څخه خدای پامانې واخېسته، او وروسته يې له خپلو ملګرو څخه ځانته ځانته خدای پاماني واخېسته.

ميرويس له کلي څخه روان شو او دي مور، خويندو او ښځې رنې رنې اوښکي يې په زړه ورېږي، کله چې موټر له کلي څخه لرې ليرې لاړ، نو يې ستوني کې درد پيدا شو او د کور يادونه يې په زړه ورغلل.

له دوه کنتي سفر وروسته د کابل ښار ته ورسېدل او د ميرويس ملګرو مسافرو ميرويس ته وويل:ميرويسه! نن شپه به په کابل کې وکړو، تېکسونه به هم راواخلو او صبا ته به ځانونه لر آرام کړو، ميرويس چې خپه او خوشاله دی، په مړ غږ يې ورته وويل: ستاسو چې هر څنګه خوښه وي زه خو دلته نه يم بلد.

ټولو په يو ځای په يوه مسافر خانه کې واړول د سفر بکسونه يې په مسافرخونه کې کېښودل.

چای یې په ګېډه وڅښـول وروسـته یـې وویـل: راځئ چې لاړ شو تیکس به هم راواخلو او مسافرو ملګـرو تـه بـه یـو یـو دسـمال یـا خـولۍ هم واخلو، میرویس هـم لـه خپلـو ملګـرو سره روان شـو، نـه پـوهېږي څه وکړي او څـه ونکـړي، خـو چـې ملګـري یـې څـه وایـي دی هـم ورسره روان وي، د صبا دولسـو بجـو تـه یـې ټکسـونه واخېسـتل وروسـته راغلل او خپلـو مسـافرو ملګـرو تـه یـې خـولۍ میـوې او دسـمالونه هـم راوخېسـتل، ماښـام مهـال بېرتـه مسـافر خـانې تـه راغلـل او د مـازېګر سترګه په لویدو وه چې دوی مسـافر خـانې تـه راغلـل، میـرویس چـې مـازېګر پـه کـور کـې پـه نـاز تېـراوو، نـن هغـه ښکلی مـازېګر نشـته، پوازې ناست دی او د کـور خـواږه مـازیګر تـه سـترګي اړوي خـو کـور نشته نو سـوچمن او وچ سـوندېان یـې د هوټـل پـه خـوا کـې فکـرو تـه مخه کـړه، د میـرویس بـل ملګـري چـې د میـرویس حـال ولیـد، نـو یې ور غږ کړ، میرویس جانـه فکرونـه مـه وهـه، راشـه کورتـه ټیلیفـون وکـړه، میـرویس سـپیره مـخ ور واړاوه، ګرانـه! دغـه وخـت بـه زمـا نـازولې فاطمـه زمـا پـه خـوا کـې وه او لـه مـا څخـه بـه یـې د بسـکوټ غوښتنه کوله، نن به زمـا فـاطمې تـه چـا بسـکوټ راوړي وي او کـه نـه، ملګـري یـې پـه شـا ټـک واهـه راځـه زمریـه! مسـافري د داسي یـادو ټولګه ده.

میرویس ماښام مهال کورته ټیلیفـون وکـړ، مـور تـه یـې وویـل مـورې! فاطمې ته چا بسکوټ لـه بـازاره راوړل؟ زمـا ګرانـه خـورکۍ چېرتـه ده؟ فـاطمې چـې د میـرویس غـږ واورېـده ورتـه یـې نـاره کـړه، لالا زمـا بسکوټ دي څه کـړل، دلتـه نـو میـرویس ټیلیفـون کټـه کـړ او پـه وړو وړو سلګیوو یې سر شو، مـور یـې هـم پـه ژړا شـوه او ښـځې یـې چـې

دا حال ولید، هغه هم ژاړي، ماښام چې خالد کور ته راغی، ...
یې خیر مورې څنګه ټول خپه یاست ولې خبر دی، مور یې ...
کړه، هغه ړنه ټیلیفون راکړی وو، د فاطمې د ښکولو پوښتنه یې ...
کوله ټول یې وژړولو، خالد ورته وویل: مورې مسافري کې ...
وختونه کم دي له دې نه به هم بد حال دړاندې راځي، ...
مې درته ویل چې مسافري روغ زړونه غمجنوي، او د ژوند ...
له خان سره وړي، خو تاسو نه منل، مور یې وویل: زویه! ...
خو ویل چې کور به له دې حالت څخه وژغوري څه خبر وو چې
داسې حال به هم وي.

خالد له جېب څخه ټیلیفون را واخیست میرویس ته یې ټیلیفون
وکړ، میرویس ته یې ډاډګېرنه ورکړه او د میرویس ملګرو ته یې
وویل له میرویس سره پام کوئ، څکه نابلده دی، هغوی هم ډاډ
ورکړ او د هیڅ ډول اندېښنې نه کولو یې ورته وویل.

میرویس چې ماخستن له ډوډۍ خوړلو وروسته ویده کېدو یا یې
د کور خوږ وخت یاد شو، او د شپې تر ناوخته خوب نه وړنه،
سهار چې راپورته شول، له صبا ناري کولو وروسته یې د تګ لپاره
تیاری شروع کړ، لس بجو ته د حامد کرزي نړیوال میدان ته
داخل شول، د هوایي میدان کارونه یې خلاص کړل او د انتظار
خونې ته لاړل، له لږ ځنډ وروسته اعلان وشو چې مسافر ورونه
دي طیارې ته خانونه ورسوي، ټول مسافر له لاسي بکسونو سره د
طیارې په لور روان شول او هر مسافر خپل مشخص سیټ ته ځان
ورساوه، طیاره هوا ته پورته شوه له میرویس څخه کور کلی او

ټول نازونه پاته شول، د غمونو ډېران تــه يــې ځــان خپلــه وغورځاوه
او په داسي سمندر ګډ شو چې ساحل يې نه درلود...
نور په آخري برخه کې راسره وګورئ.

میرویس له وطنه مسافر شو ښکلی کور ورونه، او ښځه یې پرېښودل، کله چې طیاره د کویټ په هوایي میدان کې کښېناسته د میرویس زړه له طیارې سره سم ولوېد.

کله چې یې د میدان کارونه خلاص کړل میرویس ته یې کلیوال مخ ته راغلی وو، اوپه کرولا ډوله موټر کې یې میرویس له میدانه د هستوګنې کوټې ته راوړ، میرویس چې کله موټر ته وکتل چې په موټر کې یې د کار سامان لکه بېلچه او کولنګ ولیدل، پوه شو چې خالد ډېر سم راته ویل، ما ولې په وطن کې کار نه کاوه، دلته خو هم مسافر کار کوي، میرویس مخکې فکر کاوه چې، مسافر به تیارې پیسې اخلي.

کله چې خپلې د مسافرې کوټې ته ورسېدل، میرویس مسافرو ته ګورې د تعجب او پرېشانۍ په دریاب کې ډوب وو، خو اوس څه

نه کېدل، پرته له دې چې په ټينګ ايمان له دې حالت سره مبارزه وکړي.

ماخستن يو مسافر له بل سره په دې غږېږي، چې د ماخستن ديګ نن ستا په وار دی او بل وايي چې ستا وار دی، ميرويس چې دا حال ولید لا دغم په ډېران کې ډوب شو.

ميرويس يوه بل ملګري مسافر ته وايي: ولې تاسو ډوډی په وار پخوئ، هغه په شونډو کې ورته وخندل، ولې نو څوک به يې راټه پخه کړي، مسافري ده ميرويس جانه! هر کار به خپله کوې، ميرويس له داسي عجايبو سره مخ کېږي، چې سوچ يې هم نه وو کړي.

دوه درې ورځې تېرې شوې، کليوال يې د دوو کالو اقامه ورته ولګوله، او ميرويس ته يې وويل اوس غواړي کوم کار وکړي، دلته خو دا دوه کارونه شته چې زمونږ خلګ ورسره بلد دی، يو د موټرو مينځل دي او بل د کورنو جوړېدل دي چې د مزدورۍ کار به پکښې کوې، ميرويس سوړ آسويلی واخېست، که تا مخکې راته ويلي وای، زه کله راتلم له دې کار څخه مې هلته ډېرې پيسې ګټلي، دا کار به څنګه وکړم، کليوال يې ورته وويل: ميرويسه! مسافري کې ميوې نه وېشل کېږي، که هر کار دې خوښ شو حال راکړه، چې صبا ته د کار سامان درته تيار کړم.

ميرويس خالد ته ټيليفون وکړ او په ډېر بد حال کې يې خالد ته وويل: وروره! په ما اوس موټرې وينځي، زه څه وکړم؟ خالد چې هيڅ هم له وسه نه کيدل، ورته يې وويل: ميرويس جانه! کشکې تا

زما منلي وای، خو نه دي منل، اوس پرته له دې چې په لوړ همت کار وکړي، بله هېڅ لار نه لري، ماته خو د دغه ځای معلومات نشته نو زه هېڅ نشم درسره کولای، میرویس ناهیلی شو او ټیلیفون یې کېښود، ځان ته وایي خو تا نه منل اوس به یې ګالي.

په صبا یې کلیوال ته وویل: ماته یو موټر سایکل را واخله موټرې به ووینځم.

کلیوال یې یو دانه زوړ موټرسایکل ورته واخېست او د بوکو ښودلو چنګاښونه یې په موټر سایکل ورته والډینګ کړل، میرویس ته یې وویل: د ادي موټرسایکل دی، یوځه وخت له دې نورو موټر وینځونکو سره لاړ شه، چې لږ بلد شې اتي به خپله د وینځلو موټرې نېسې.

میرویس صبا سهار دشپې په دوه بجې له یوه ملګري سره راپورته شو، او د کور نازونه یې دشپې په کار بدل کړل، ځکه ځان یې نه وو پیژندلی، او له دریو سختو ورځو وروسته یې کوټېوال ملګرو ورته وویل: نور بلد یې خپلې موټرې پیداکړه لس دانې به موټړ درکړو، میرویس ته خپلو ملګرو لس د وینځلو موټرې ورکړې، میرویس او ځان یې سره پاتې شول.

میرویس له سختو کړاونو سره مخ دی، هېڅوک نشته چې دی له دې بد حال ځخه را وباسي، هر مسافر په خپله ستونزه کې ګیر دی، د میرویس ستونزې به ځنګه هوارې کړي، شپې او ورځې ورته کلونه شول، د میاشتې په پای کې میرویس ته ملګرو وویل: میرویسه! تیره میاشت مو له خرځې خلاص کړي په دې میاشت کې

ورځخه وساتئ، نن په دې فکر وکړئ چې د صبا ژوند باید ځنګه ښکلی او آرام کړو، د مدرسې او مکتب لوری مه پرېږدئ، وه به وينئ چې صبا تاسو هر يو هغه ښه ژوند ولرئ چې نن يې غوښتونکي ياست.

ستاسو د لوړي مطالعې په هیله، له الله تعالی نه تاسو او ځان ته د مغفرت غوښتونکی یم، هیله مې له لوی الله څخه دادی چې هغه مسوولیت چې مونږ ته دمتعال ذات له لورې راکړل شوی دی هغه مو په سمه توګه تر تاسو در رسولی وي.

یو ځل بیا مو تاسو ته توصیه دادی: د مکتب او مدرسې ځنځیر مه پرېږدئ، تل خپل درسونه ووایاست او د بل وطن هاووسونه مو له فکر څخه لیرې وغورځوئ، په خپل ټاکلي وخت مو ټول کارونه سرته ورسوئ، ځو وکولای شئ د ټولني خادمان جوړ شئ، او خپل ژوند خپل کور او ټولنه له ټولو ښادېوو څخه برخمنه کړئ، او د شته ناخوالو ور د تل لپاره وتړئ.

لوی الله مو مل شه

ټول کليوالو پر غاړه واخېستل، ځکه ټولني ته يې صادق خدمت کړي وو، د ټولني په درد پوهېدلی وو، ځکه ټولني ده ته د عزت په سترګه کتل او هم يې په ټول کلي کې دلوی نوم او ستر شخصيت په نامه خان وپيژانده.

د دوی دواړو په ژوند کې يو لوی توفير موجود وو، همدا توفير له وړکتونه د دوی په فکرونو کې پروت وو، د خالد فکر د کلي او ټولني په خدمت او همکاري کې ډوب وو، هماغه وو چې دې ښايسته فکر دی د ټولني سردرا جوړ کړ، او د ميرويس فکر د خارج په تماشو کې ډوب وو، هماغه وو چې د خارج او بل هېواد مسافرو وخوړ، نه يې په ټولنه کې نوم وو او هم د ژوند له سختو سهنو سره لاس او ګريوان وو.

خالد او ميرويس خپل ژوند تيرولو ته پرېږدو چې يوه يې ځانته سم او بل يې ځانته ناسم انتخاب غوره کړی وو، راځو دې ته او له ځانه پوښتنه کوو چې د خالد او ميرويس په ژوند کې لوی درس په څه شي کي پروت دی؟ که تاسو هر يو دغه کتاب ښه او په خلاص فکر مطالع کړئ وي نو پوهيږئ چې د دوی په ژوند کې توفير په څه کې وو؟

د دې پوښتني جواب دادی: چې انتخاب او خوښونه چې له سم فکر سرچينه اخلي د سم ژوند او ناسم ژوند په برابرولو کې رول لوبوي، قلم او کتابچه درواخلئ! له ځان سره د خالد او ميرويس هغه سهني وليکئ، چې په راتلونکي ژوند کې غواړئ تاسو ځان

لېوه، خو د دې بد مرغه کفلانو لا هم زړه سوړ نه دی، لا يې نور هم خوروي او کړوي، الله تعالی دي له دوی نه زمونږ ټول مسافر ورونه خلاص کړي.

میرویس د مسافرۍ پټي بلا وخوړ، او په سخت دردمن ژوند کې را ګیر شو.

خالد همزه او طايب څوک په درسو اوڅوک دټولني په خدمت کې سهار او ماښام په زده کړو لګیاوو، ارام ژوند يې وو او خپل خوږ ژوند يې تیراوو.

يوڅه وخت وروسته خالد هم کوزده وکړه او خپل خوږ ژوند يې جوړ کړ، خو میرویس داسي رنځ نېولي وو، چې نه جوړېدو او نه مړ کېدو ، خوږ ژوند يې د مسافرۍ په سخت ژوند خراب کړ او د بیلتانه درد به تل ژړاوه، ورونو يې د ژوند لار لیدلې وه، نو ځکه ژوند دوی ته لار وښوده، میرویس د ناپوهي تورتم کې د نا اهله عربو مزدور له ځانه جوړ کړ.

دومره مزدورۍ چې میرویس مغرورو عربو ته کوله که يې خپلې ټولني ته دا خدمت کړي وای د ټولني هر وګړي به د میرویس عکسونه ګرځول، خو میرویس د عربو په ناخبره مزدورۍ کې ورک وو، چې نه يې ټولني ته فايده وه او نه يې په ټولنه کې نوم پاته شو.

خالد د کلي په لېسه کې د صادق خدمت په مټ د کلي او کلیوالو تر سترګو داسي زرغون وو چې د خالد د کوزدې او واده مصارف

زور غواړي، همزه چې د میرویس دا حالت ولید سخت يې غمه کړ، او خالد ته يې وویل: میرویس له مسافرۍ څخه ډېر تنګ دی، راځه راوبه يې غواړو دلته به په کلي کې دکان ورکېږدو.

خالد ورته وویل: همزه جانه! زه په اول کې پوهېدم چې مسافري ډېره سخته خواري ده خو میرویس او مور مو شله وو، هغه پیسې چې د میرویس په ویزا مو ورکړې په هغو پیسو مو دلته میرویس ته به دکان جوړولای شوای، اوس چې پیسې نشته نشو کولای چې دکان کېږدو، زه به له میرویس سره وغږېږم، که د یوه دکان پیسې يې لرلې زما درخوښه ده چې میرویس دلته راولم، او که پیسې ورسره نه وي بیا نشو کولای.

کله چې خالد له میرویس څخه دپیسو پوښتنه وکړه، میرویس ورته ټول مشکلات بیان کړل چې تېره میاشت کې کفیل خواب راکړ چې اقامه دي بل ځای ولګوه او کله چې مې بل ځای لګوله اته سوه دیناره خرڅه وربانديې راغله، اوس نشم کولای چې تاسو ته پیسې در ولېږم، خالد هم ورسره ومنله او له میرویس څخه يې ټیلفون بند کړ.

د میرویس ژوند سخت په منډه شو له داسي برخلیک سره مخ وو، چې ده ته خپله هم معلومات نه وو، چې کوم خواته به ځم او زما برخلیک به ما کوم ځای ته رسوي، په داسي سمندر کې ډوب وو چې هیڅ لوری يې معلوم نه وو، کله به يوطرف او کله به يې بل طرف منډې وهلې، پیسې يې عربو ته ګټلې، نا اهله کفلانو د افغان مسافرو وینو ته داسي وږې ناست وي، لکه د شپو ورځو وږی

بوه ورځ يې مور ورتـه ټيليفـون را وکـړ زويـه! کلـه بـه راځـې اوس خـو دې ډېـرې شـپې وشـوې، پيسـې بـه هـم درسره وي، ميـرويس ورتـه وويل: مور جانې کشکې مـا د خالـد مـلـې واى، ځـه ښـه بـه وو، لـه ډېر بد حالـت سره مـخ يـم تـر ټولـو بـده يـې لا داده چـې تاسـو وايـې چې ميرويس بـه پـه مـزو او پيسـو کـې وي، خـو زه لـه سـخت دردمـن ژوند او محتاجې سره مخ يم، سـهار پـه دوه بجـې کـار تـه ځـم او ټولـه ورځ د عربو موټرې وينـځـم، خـو تاسـو وايـې، چـې ميـرويس لـه مـزو مړ شو، اى، اى، اى مورجـانى مـا خپلـه پـه ځـان وکـړل، کشـکې مـا لږ فکر کړى واى، ولې به داسې در بدر وم.

ميرويس د کوټې لـه ملګـرو سره هـم تـل پـه جنجـال وي، کلـه يـې د ديګ پخولو وار کـې جنجـال وي، کلـه يـې د لوښـو وينځـلو پـه وجـه جنجـال وي، مسـافرې ژونـد دى لـه غمـو او دردونـو ډک ژونـد دى، بل خوا د عربـو مغـرورې ده، کـه کلـه يـو مـوټر لـږ سـم نـه وه وينځـې ميرويس ته داسې بدې سپورې خـبرې کـوي لکـه انسـان چـې نـه وي، ميـرويس نـازولى وو او پـه مسـافرې کـې يـې هـم نازونـه غوښـتل، د عربـو مسـافرې کـې نازونـه لـه کومـه شـي، يـوازې او يـوازې غمونـه، فکرونه او يادونه دي او بس.

ميرويس له خپلو خوړو وروڼـو پـه شـپو شـپو نـاخبره وي، او لـه خـوړو خويندو څخه خبر هم نه دى چې چېرته به وي او څنګه به وي.

همـزه چـې د دوى دريـم ورور وو يـوه ورځ يـې ټيليفـون ورتـه وکـړ، ميرويس چې د همـزه غـږ واوريـدو ژړه غـونى شـو او ورتـه يـې وويـل: همزه ګله! پـه درسـونو دې پـام کـوه، بـل وطـن کـې مزدورې سـخت

څلوېښت ډیناره خرڅـه دربانـدې راغـلي. میـرویس سره ټـول پنځـه دېرش ډیناره وو پنځـه يې لـه بـل چا قـرض کـړل او دکـوټې حساب يې خلاص کړ.

کله چې میاشت تېره شوه ملګرو يـې ورتـه وویـل چې نـور بـه د ډېـر ښځولو وار هم تېـروې، میـرویس بـه پـه کـور تیـاره ډوډۍ کـې نغـرې کـولي، اوس نـه یـوازې چـې ډوډي پخـه کـړي د خـان کـالي هم خپله وینځي.

دری څلور میاشتې بعد هغـه کلیـوال چـې ده تـه يـې وېـزا ایستلې وه وویـل: میرویسـه! لـس شـپې بعـد زه څـم کورتـه او پرتـا مـې اتـه سوه ډیناره د ویزا او اقامې پاتـه دي، میـرویس ورتـه وویـل: سهي ده پیدا به يې کړم، یـو څـو ورسره خپلـې او نـورې يـې قـرض کـړې، کلیـوال تـه يـې ورکـړې، میـرویس اوس نـه یـوازې مسـافر دی، بلکـې پـه مسافرۍ کـې قرضداره هـم دی، دوه آفتـه سره یـو ځـای شـول او د میرویس حالت ورځ تـر بلـې خرابېـږي، ځکـه چـې مسـافري کـې يـې خوند لیده، خو مسافري نه وه توره بلاوه.

یوکال تیر شو خو میرویس نه له قرضه خـلاص شـو او نـه هـم لـه سـتړې ژونـده، بـدې ورځـې تېـروي، هلتـه يـې مـور او ښځه پـه دې انـد دي، چې زمونږ مسافر خو مـزې کـوي، د میـرویس مـزې دي الله پـه چا نه ویني، شپه په فکرو او ورځ په منډو تیروي.

ورځ تـر بـلي يـې حالـت خرابیـږي او لـه سـختو ورځـو سره لاس او ګریوان دی.